# د فلو یا انفلونزا په وړاندې ځان وساتئ.

## دا واکسین مو د کومي ناروغی پر وړاندې ساتنه کوي؟



- دا واکسین  مو د انفلونزا ویروس له امله رامینځته شوي تنفسي انتان پروړاندې ساتنه کوي. انفلونزا هر کال په کاناډا کې د مني او ژمي په موسم کې پیښیږي او کولی شي د شدید انتاناتو لامل شي، چې د سینه بغل او روغتون کی د بستر کیدو لامل کیږي. دا د عام زکام په پرتله خورا شدید او سخت دی.

## څوک باید دا واکسین ترلاسه کړي؟

- هر څوک چې ۶ میاشتې یا ډیر عمر ولري (صحتمند، د سالم معافیت لرونکي اشخاص) باید دا واکسین ترلاسه کړي



## څوک باید دا واکسین ترلاسه نکړي؟

دا سپارښتنه کیږي چې ټول صحتمند خلک باید دا واکسین ترلاسه کړي. که چیرى تاسو د واکسین یوې برخې سره شدید حساسیت لرئ یا په تیرو وختونو کې مو د ورته واکسین ترلاسه کولو وروسته جدي یا غیر معمولي بدی اغیزې تجربه کړې وي، نو تاسو ممکن دي واکسین تطبیق ته اجازه ونلري.

## د دې واکسین جانبی عوارض څه دي؟



جانبي عوارض یې موقتي وي  لکه د ستنی یا پیچکاري ځای کې سوروالی،  پړسوب، درد ، ستړیا ، سر درد ، تبه ،ضعیفه اشتها او داسې نور شامل دي. جانبي عوارضو د اداره کولو لپاره  د پیچکاري یا ستني ځای کي د یخ ، لوند ټوکر څخه کار اخیستل ، او د تبې یا درد سره د مقابلې لپاره د ibuprofen یا acetaminophen په څیر درمل اخیستلی شو.

---

## که تاسو کومي اضافي پوښتنې لرئ یا غواړئ خپل واکسین واخلی؟ تاسو کولی شئ:

- د روغتیایی خدماتو ۸۱۱ شمیرې سره اړیکه ټینګه کړي.
- د نوي راغلو خلکو لپاره د څو ژبو روغتیایی مرکز ته په 1-587-392-8062 شمیرې اړیکه  ټینګه کړي.
- د خپل کورنی ډاکټر یا د لومړني صحي خدماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.

AIMGA
Alberta International Medical Graduate Association

19 TO ZERO
UNITED AGAINST COVID-19

Public Health Agency of Canada
Agence de la santé publique du Canada

ACTION FOR HUMANITY